



یوه ورځ د شاتود مچو سېل د خپلې ملکې دربار ته راغلو او فریاد یې وکړ، "ملکې بي بي! مونږ په غونډه کال بوټي په بوټي، غوټۍ په غوټۍ او ګل په ګل وګرځو او رس جمع کړو."



خو هائي افسوس! چې چاتا مېلو راشي او
په يو شړپ کښې ټول ګبين هپ دپ کړي او
مونږ ورته بقه خله پاتې شو- د دې څۀ لار
راوېستل پکار ده“-



ملکې د ځنګل ټولو ځناورو، مارغانو او ونو بوټو ته دا مسئله وړاندې کړه او پوښتنه یې وکړه، "تاسو کښې څوک د دې مسئلې په حل کولو کښې زمونږ مرسته کولې شي؟" د نښتر ونې، کارغهٔ، شادو او نورو ملګرو ورسره د خپلې مرستې لوظ وکړو.



مېلو چې د تازه شاتو ګک و لیدۀ نو په خلۀ کښې یې ورته اوبۀ راغلې- ځان سره یې ووئیل، ”واه واه! تازه او خوږۀ شات ډېر خوندور وي“- هغۀ په زړۀ کښې ډېر خوشحاله وۀ.



مېلو چې څنګه د شاتو ګڼ ته نزدې شو نو
شادو په چغو ټول خبر کړل-
راغے مېلو راغے      د شاتو غل دے راغے
په ځنګل کښې د مېلو د راتلو خبر د اور په
شان خُور شۀ-



د نښتر ونه چې ځنګه خبر شوه نو خپل ټول سرېښ يې د مېلو په لار کښې واچول- مېلو چې ځنګه قدم واخستهٔ نو پښې يې په سرېښو کښې ونښتې- مخکښې قدم اخستل ورته ګران شول- هغهٔ چغه کړه، "وئ وئ زما پښې، وئ وئ زما پښې".



په ډېره ګرانه يې پښې د سرېښو نه خلاصې کړې او ګبين پسې يې په روانه کښې ووئيل، ”نن که هر څۀ کېږي خو زۀ به دا شات خا مخا خُورم“.



خو چې څنګه لږ مخکښې شۀ او ګبین ته ور نزدې شو نو کارغان پرې راغوټه شول- او په ټُونګو ټُونګو یې سُور کړو- مېلو د لاده باده پربوتۀ-



په دې کښې د ځنګل نور ځناور هم راورسېدل- ټول په مېلو راپره شول- لومبړې ترې تپوس وکړو، "بیا به شات پټوې؟"



ژوبل مېلو وویل، "ما معاف کړئ، بیا به چرې هم بې تپوسه شات نهٔ خورم"-



ټولود شاتو مچو ته وکتل- مچو مېلو معاف کړو- مېلو زر زر د هغې ځاے نه پښې ووېستې او د شاتو خوړلو ارمان يې په زړهٔ پاتې شهٔ-

# بګ بکس

## د دوېم جماعت د پاره

پاکستان ریډنګ پراجېکټ (USAID-funded Pakistan Reading Project) پینځۀ کلن پروګرام دے چې، د بېن الاقوامي ترقۍ د پاره امریکائي اداره (USAID) په مدد سره چلیږي- د دې پروګرام مقصد په پاکستان کښې د صوبائي او علاقائي تعلیمي محکمو په تعاون سره د ذده کوونکیو د لوستلو مهارتونه ښۀ کول دي- په دې لړکښې پاکستان ریډنګ پراجېکټ د زده کوونکیو د پښتو لوستلو مهارتونو د پرمختګ د پاره مختلف تکنیکي، تعلیمي او د ښودنې مواد تیار کړي دي-

بګ بُکس ددې تعلیمي موادو یو مهمه برخه ده- د 24 هفتو د پاره 12 بِګ بُکس لیکلې شوي دي- یو بِګ بُک به په دوؤ هفتو کښې لوستلې شي- استاذان به دا بګ بُکس د "اوچت اواز" په طریقه لولي- د هر بګ بُک په وروستنې مخ د استاذانو د پاره ددې هفتې د لوستلو مهارتونو سرګرمۍ ورکړې شوي دي- استاذان دې په هفته کښې دوه ورځې دا سرګرمۍ ضرور وکړي- د بِګ بُک لوستلو په وخت د دې خبرې خیال وساتئ چې ماشومانو ته ټوله قیصه واورولې شي- د دې کتابونو لیکلو په وخت مختلف اُصول د نظر لاندې ساتلې شوي دي- مثلا د مخصوصو موضوعاتو انتخاب، د ماشومانو ذهني سطح، ساده او مناسب ټکي او د ماشومانو دلچسپي برقرار ساتلو د پاره واضحه تصویري خاکې پېش کول وغېره-

د دې محنت په نتیجه کښې به استاذان د ماشومانو د لوستلو مهارتونه مثلاً صوتي اګهي ، دغږنو علم، د ټکیو ذخیره، د لوستلو رواني، او د تفهیم صلاحیتونو ته وده ورکړي شي- دا کتابونه به په خصوصي توګه د لائبرېریو برخه وي چې راتلونکي ماشومان ترې هم ګټې تر لاسه کړي او د پښتو په لوستلو کښې به د دلچسپۍ دا سلسله هم روانه وي-
مونږ هیله لرو چې د پي آر پي دا محنت د خېبرپښتونخوا په پرائمري سکولونو کښې د لوستلو معیار ښۀ کولو کښې معاون ثابت شي-

پاکستان ریډنګ پراجېکټ کښې لاندیني تعلیمي او د ښودنې مواد شامل دي-

- ټي اَئي جي ماډیولز
- سبقي منصوبې
- ویډیوز
- ورک بُک
- بِګ بُکس
- فلېش کارډونه
- د ارکانو چارټونه



د چپایۍ په وخت د دې موادو د هر قسمه غلطۍ نه د پاک ساتلو د پاره په زړۀ پورې کوشش شوے دے- بیا هم کۀ چرې د لوستلو په وخت تاسو ته په دې کښې څۀ قسمه غلطي ښکاره شوه نو مهرباني وکړئ د دې باره کښې زر تر زره د پاکستان ریډنګ پراجېکټ ضلعي یا صوبائي دفترونه خبر کړئ- د دې تعاون د پاره به مونږ ستاسو مننه کوؤ-

# استاذانو د پاره لارښوونې

نوټ: استاذان دې هره ورځ ماشومانو ته ټوله قیصې اوروي او په لاندیني لارښوونو دې عمل وکړي-

## وړومبۍ ورځ (خبرې اترې: پېش ګوئي او سابقه معلومات)

### د لوستلو نه مخکښې

» ماشومانو نه د قیصې د سرپاڼې ښودلو په وخت تپوس وکړئ:
» ستاسو په خیال دې قیصې کښې به څۀ شوي وي؟
» تاسو د مېلو په حقله قیصې اورېدلې ده؟

### د لوستلو په وخت

» د 1 مخ تصویر ښودلو په وخت تپوس وکړئ، چې په دې تصویر کښې د شاتو مچۍ څۀ کوي؟
» په 4 مخ تصویر وښایئ او تپوس وکړئ چې د مېلو په خلۀ کښې اوبۀ ولې راغلې؟

### د لوستلو نه پس

د خپلې مرضۍ د دوۀ سوالونو تپوس وکړئ:
» د شاتو مچۍ چرته وسېدې؟ د هغوي خوراک څۀ وو؟
» د شاتو مچۍ چرته وسېدې؟
» د هغوي خوراک څۀ وۀ
» د شاتو مچۍ ملکې له ولې ورغلې؟
» د قیصې په اخر کښې څۀ وشول

## دویمه ورځ (د ارکانو مشق)

### د لوستلو نه مخکښې

» په سر پاڼه د مېلو تصویر وښایئ او تپوس وکړئ، ستاسو ژبه کښې دې څۀ وائي؟

### د لوستلو په وخت

» په 3 مخ د "کارغۀ او شادو" تصویر وښایئ او تپوس وکړئ، ستاسو ژبه کښې دې ته څۀ وائي؟
» په 6 مخ جمله "ځان سره یې ووئیل، واه واه! تازه او خواږۀ شات ډېر خوند ور وي"-ولولئ او ماشومانو ته په خپله ژبه کښې دا جمله د لوستلو ووایئ؟
» په 11 مخ ودرېږئ او جمله د تاثراتو او د لب و لهجې ښکته پورته والي سره ولولئ "بیا به شات پټوې؟" ماشومانو ته خپله ژبه کښې دا جمله د لوستلو ووایئ

### د لوستلو نه پس

» ماشومانو ته هم اواز ټکي جوړولو ووایئ
ټکي: رس، کال، اوبۀ، زړۀ، ګل، ټول

## درېیمه ورځ (د ټکیو پنګه: محاورې او اصطلاحات)

### د لوستلو په وخت

» په 2 مخ جمله "چاټا مېلو راشي او په یوه پېره کښې ټول ګبین هپ دپ کړي او مونږ بقه خله پاتې شو" استعمال کړئ او یو مثال ورکړئ لکه: عمران چې روغه روټۍ په خلۀ کړه نو عامر ورته بقه خلۀ پاتې شۀ- اوس د جملو جوړولو په وخت د ماشومانو مرسته وکړئ-
» په 7 مخ جمله "مېلو چې د تازه شاتو ګبین و لیدۀ نو په خلۀ کښې یې ورته اوبۀ راغلې" او د ماشومانو د پوهې د پاره د یوې جملې مثال ورکړئ لکه: ګل بانو چې ګلاب جامن خوړو نو د ګلالۍ ورته په خلۀ کښې اوبۀ راغلې - په جملو جوړولو کښې د ماشومانو مرسته وکړئ-

## څلورمه ورځ (خبرې اترې: د ذاتي ژوند په حقله)

### د لوستلو نه مخکښې

» د شاتو مچو مشره څوک وه؟
» د شاتو مچۍ څنګه شات جوړوي؟

### د لوستلو په وخت

» مېلو ولې شات پټول؟
» د مچو مدد د پاره د ټولو نه مخکښې څوک مېدان ته شول؟
» که تاسو د شاتومچو دوستان وئ نو تاسو به څنګه د هغوي مدد کولو

### د لوستلو نه پس

» د قیصې کومه برخه ستاسو ډېره خوښه شوه؟
» تاسو هم د یو بل مدد کوئ؟ څنګه؟

www.pakreading.org

This publication is made possible by the support of the American people through the United States Agency for International Development (USAID). It is produced by the USAID-funded Pakistan Reading Project in collaboration with the provincial/regional government. The contents are the sole responsibility of the project and do not necessarily reflect the views of USAID or the United States Government.

د دې موادو خپرونه د امریکائي خلقو په مرسته د امریکې بین الاقوامي ترقۍ ادارې په لاس ممکن شوې ده- دا مواد یو اېس اېډ- پاکستان رېډنګ پراجېکټ د صوبائي/علاقائي حکومتونو په مرسته او شراکت سره تیار کړي دي- ددې موادو ټوله ذمه واري د پاکستان رېډنګ پراجېکټ ده- او دا ضروري نۀ ده چې دا د یو اېس اېډ یا د امریکائي حکومت د نظریې عکاسي کوي-